په يهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې د عبادت ځايونه ګرځولي

له عائشې او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی (دواړو) ويلي: کله چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم - د مرګ حالات- راغلل، نو خپل مخ يې په خپل يو څادر سره پټ کړ، کله به چې پرې سختي راغله نو لرې به يې کړ، بيا يې پدې حال کې وويل: «په يهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې د عبادت ځايونه ګرځولي» د هغوی د کړنو په اړه يې خلکو ته خبرداری ورکاوه.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عائشه او ابن عباس رضي الله عنهما خبر راکوي چې کله پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته مرګ راغی نو خپل مخ يې په يوې ټوټې (ټوکر) سره پټ کړ، نو کله به يې چې د مرګ د سختيو له امله ساه تنګه شوه بيا به يې لرې کړه، نو پدې سختو حالاتو کې يې وويل: په يهودو او نصاراو دې د الله لعنت وي او هغوی دې له خپل رحمت څخه وشړي؛ ځکه چې هغوی د خپلو پيغمبرانو په قبرونو جوماتونه جوړ کړل، او که چېرته دې کار خطر نه درلودی نو هېڅکله به يې پداسې سختو حالاتو کې د دې خبرې يادونه نه وی کړی، لدې امله رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت د دې کار په څېر له کولو څخه منع کړی دی، ځکه چې دا د يهودو او نصاراو عمل دی، او ځکه چې دا عمل شرک ته د رسېدو لار ده.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3330